# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د جنوري څلورمه | ۶۵۷مه ګڼه


پوهنتون

۴ مخ

## وردګ

د وردګو ولایت منېې د هېواد پـه سطحه ښـه نـوم لـري او له دي ورهاخـوا نـورو بهرنیـو هېوادونو لکه پاکسـتان، چین، هند او ایـران ته هـم صادرېږي.



# د پمپیو زهرجنې څرګندونې؛

## مشرانو جرګه: امریکایانو ته خپل سرتېري مهم دي، د افغانانو د وینو پروا نه ساتي



۳

خوندي امریکایي سرتېري او په وینو کې ډوب افغانان

۲ مخ

فارین پالیسی؛ زوال قدرت اردوی پاکستان نزدیک است

۲ مخ

د نوي میلادي کال په مناسبت د شي جین پینګ وینا ته د ځینو افغانانو غبرګونونه

۳ مخ

کرنې وزارت:

## راتلونکی کال د هېواد په اتو ولایتونو کې ۳۳۲متراکم بڼونه جوړوو



د کرنې وزارت چارواکي وایيچې د دغه وزارت د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژې له لارې به په ۱۴۰۰مالي کال کې د هېواد په اتو ولایتونو کې ۳۳۲متراکم بڼونه جوړ کړي.

د چارواکو په خبره، په دغو جوړېدونکو بڼونو کې به د مڼو، شفتالو، ناکو، الو، انارو او لیمو بڼونو جوړول شامل وي، چې د جوړلو لګښت به یې ۵۹میلیونه او ۲۲۶زره او ۵۵۹ افغانۍ وي. د دوی په خبره، یاد بڼونه د کابل، بامیان، غزني، میدان وردګ، پکتیکا، لوګر، پکتیا او خوست په ولایتونو کې جوړېږي. د یادونې ده چې د بڼوالۍ ځنځیري ارزښت د پراختیا پروژه «HVCDS»د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت له هغو پروژو څخه دی، چې د اسیایي پراختیایي بانک «ADB» له خوا تمویلېږي. یاد بانک روان کال هم د هېواد په ګوټ ګوټ کې له کرنې وزارت سره د ورته پروژو په پلي کولو کې د پام وړ مرسته وکړه.

ولسمشر غني: د ښوونځیو اوسنی نصاب پراخو بدلونونو او اصلاحاتو ته اړتیا لري

ولسمشر غني وايي، د افغانستان د ښوونځیو اوسنی نصاب اصلاحاتو او پراخو بدلونونو ته اړتیا لري.

ولسمشر غني د پوهنې وزارت له سرپرست وزیرې رنګینې حمیدي سره په کتنه کې ټینګار کړی، چې په دغه وزارت کې د اصلاحاتو بشپړ او هر اړخیز ملاتړ کوي. د ده په وینا، په پوهنې وزارت کې باید مسلکي او وړ کسان په کار وګومارل شي او په دې برخه کې د هېچا مداخله ورته د منلو نه ده.

نوموړي همدا راز د پوهنې وزارت مشرتابه ته سپارښتنه کړې چې په تعلیمي نصاب کې دې اصلاحات جدي کړي او په چټکه توګه دې په دې برخه کې بدلونونه راولي. د ده په خبره، تعلیمي نصاب باید له نړیوالو معیارونو سره برابر شي او ټولنیز علوم باید اسلامي اصولو او د افغانستان فرهنګ ته په پام تیار کړل شي. هغه ډاډ ورکړی چې د پوهنې وزارت د اصلاحاتو په برخه کې د حکومت سیاسي او هر اړخیز ملاتړ له ځان سره لري.

دا په داسې حال کې ده چې په یاد وزارت د کمزوري مدیریت او پراخ فساد له کبله لاهم جدي نیوکې کېږي.

په دې وروستیو کې د مبک هم په یوه راپور کې وویل چې که څه هم په پوهنې وزارت کې د پخوا په پرتله بدلونونه راغلي، خو لاهم په یاد وزارت کې شته فساد خلک پر دې اداري بې باوره کړي دي.

سناتوران: حکومت دې په مرموزه توګه د خبریالانو د وژنې په تړاو جدي پلټنې وکړي



۵ مخ

وزارت صلح:

## حکومت افغانستان تعهد قوی برای پیروز ساختن مذاکرات صلح دارد



وزارت دولت در امور صلح می‌گوید پروسهٔ صلح پیچیده است ولی برای پیروز ساختن آن تعهد نیرومند دارد.


این در حالیست که هیئت مذاکره کنندهٔ دولت قرار است دیروز در بارهٔ دور آیندهٔ مذاکرات با طالبان با رئیس جمهور ملاقات کردند.

ناجیه انوری سخنگوی وزارت امور صلح به رسانه گفت: «روند صلح افغانستان پیچیده است اما دولت و هیئت مذاکره کنندهٔ جمهوری اسلامی افغانستان برای پیشبرد موفقانهٔ این روند با در نظرداشت خواست مردم افغانستان و منافع ملی کشور اراده و تعهد قوی دارد.»

این درحالیست که هئیت مذاکره کننده دولت افغانستان می‌گوید، با طرف‌های مختلف در رابطه به روند صلح افغانستان رای‌زنی کرده و این همه مشوره‌ها را در ملاقات با رئیس جمهور اشرف غنی در میان گذاشته است.

قطر فردا روز سه شنبه پنجم جنوری میزبان دور دوم مذاکرات بین افغان‌ها خواهد بود. غلام فاروق مجروح یکی از اعضای این هئیت می‌گوید، برقراری آتش‌بس و مشارکت سیاسی با طالبان از بحث‌های مهم دور دوم مذاکرات خواهند بود.

آقای مجروح به رادیو آزادی گفت است که پس از دیدار با رئیس جمهور غنی این هئیت امروز به قطر می رود و فردا در دور دوم گفتگوها سهم می گیرد.

Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# خوندي امريکايي سرتېري او په وينو کې ډوب افغانان

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو ويلي چې په دوحه کې د طالبانو او امريکا ترمنځ له هوکړې وروسته په افغانستان کې يو امريکايي سرتېری هم نه دی وژل شوی. نوموړي ويلي چې دا لوی پرمختګ دی او په افغانستان کې د ټرمپ تګلاره بريالۍ ده. ارګ وايي چې امريکايي سرتېري ځکه نه دي وژل شوي، چې طالبان له حکومت او افغانانو سره جګړه کوي او طالبان بيا وايي چې دا ښيي چې دوی د دوحې تړون ته ژمن دي او که په داخلي برخه کې هم کوم توافق کېږي، نو دوی به همداسې ژمن پاتې کېږي.

د پمپيو دا خبرې هر افغان ته له دردە ډکې دي. د افغانستان جګړه يوه امريکايي جګړه وه او لا هم ده. جګړه امريکا پيل کړه، امريکا وغځوله او لا هم د امريکايي ګټو لپاره روانه ده. پخوا که په دې جګړه کې افغانان وژل کېدل، خو يو يو درد به يې امريکا ته هم رسېده، خو له بده مرغه امريکايي ځواکونه اوس په خپلو اډو کې خوندي دي، افغانان يو بل سره وژني او لا هم معلومه نه ده چې تر کله به د افغانانو وژنه همداسې روانه وي.

امريکا په افغانستان کې لومړی امنيتي تړون د همدې لپاره وکړ چې سرتېري يې اډو ته ور ټول شي او مرګ ژوبله يې کمه شي. دا هغه وېره وه چې پخواني ولسمشر حامد کرزي لرله او هغه په زغرده دا خبره کړې هم وه او له همدې امله امنيتي تړون هم لاسليک نه شو، خو ولسمشر غني تړون لاسليک کړ. امريکايي ځواکونه په اډو کې تر ډېره خوندي شول او مرګ ژوبله يې ډېره راکمه شوه. له دې امله چې بيا هم ګواښ و او وېره وه چې دا ګواښ به طالبانو ته د پرمختللو وسلو په رسېدو سره لا زيات شي، نو ځکه يې د سولې خبرې پيل کړې او د دوحې له هوکړې وروسته اوس دا دی امريکايان پوره خوندي شوي دي. خبره يوازې دا هم نه ده چې امريکايان خوندي شوي، بلکې د امريکا لګښتونه هم ميلياردونه ډالره راکم شوي دي او سرتېرو ته يې د خوندي وتلو لاره برابره شوې ده.

ښايي د جګړې ښکېل لوري دا حالت توجيه کړي، مقابل اړخ ملامت کړي او يا بل دليل ووايي، لکه اوس يې چې ويلی دی، خو دا په رښتيني مانا هر افغان ته له درد، غم او خپګان ډک حالت دی او د پمپيو خبره د هر افغان زړه دردوي. دا د خواشينۍ خبره ده چې اشغالګر ځواکونه خوندي دي او يا هم خوندي وځي، خو افغان لا هم په وينو کې مزل کوي او هره شېبه يې وينې او خوښې په بمونو او مرميو سوځېږي.

اوس هغه وخت دی چې دا حالت بدل شي. که امريکا خوندي وي، افغان هم بايد خوندي وي. د سولې روانې خبرې بايد په جديت سره مخ ته يووړل شي، دا خبرې بايد ژر پايلې ته ورسېږي او په دې برخه کې هر ډول غلفت د افغان وژنې د دوام سبب ګرځي. ټول اړخونه بايد ژر تر ژره يوه داسې تړون او توافق ته لاره هواره کړي چې ټول افغانان خوندي کړي او بيا مور همداسې يو خبر ولرو چې له توافق وروسته يو افغان هم په جګړو کې نه دی وژل شوی.

# فارین پالیسی؛ زوال قدرت اردوی پاکستان نزدیک است

نوشته: عقیل شاه
مترجم: سیدجمال اخگر
منبع: فارین افیرز

سال هاست که ارتش پاکستان از رقابت این کشور با هند برای مشروعیت بخشیدن به قدرت سیاسی و اقتصادی خود و برای حفاظت از جنرال‌ها در برابر انتقادها بهره می برد.

اگرچه هیچ گاهی ارتش پاکستان در جنگ های نظامی پیروز نشده است، اما جنگ علیه دیموکراسی را موفقانه به پیش برده است، و تقریباً نصف تاریخ پس از استقلال پاکستان را ارتش حکمرانی کرده است و نصف دیگر این تاریخ را نفوذ و حاکمیت سیاسی ناروای این نهاد بالای حکومت های منتخب ملکی تشکیل می دهد.

عمران خان نخست وزیر کنونی پاکستان با کمک جنرال‌های ارتش از طریق انتخابات پارلمانی مملو از تقلب در سال ۲۰۱۸ به قدرت رسید و اکنون این جنرال‌ها هستند که حکومت ملکی ضعیف پاکستان را مانند عروسک خود ساخته و این کشور را از پشت پرده اداره می کنند.

در همین حال طی ماه های اخیر ارتش پاکستان با چالش های سیاسی زیادی رو بر رو شده است. «جنبش دیموکراتیک پاکستان یا (پی دی ام) که یکی از ائتلاف های بزرگ مخالف حکومت است، گردهمایی های بزرگی را بر ضد حکومت عمران خان سازمان دهی کرده و خواستار استعفای نخست وزیر شده اند.

عمران خان و «حزب تحریک انصاف پاکستان» اش که توسط جنرال‌ها سرپا نگه داشته شده است، به نظر نمی‌رسد که به این خواسته تن دهد، اما این اعتراضات هدف دیگر و به مراتب بزرگ‌تری نیز دارد: خود ارتش. بسیاری از پاکستانی‌ها ارتش را به‌عنوان قدرت واقعی پشت خان و علت اصلی مشکلات سیاسی و اقتصادی کشور می‌دانند. خشم آن‌ها سبب تغییر چشم‌گیری شده است، زیرا چهره‌های اصلی سیاست برای اولین‌بار علیه سلطه‌ی ارتش در پاکستان صدای خود را بلند می‌کنند. این تغییر می‌تواند سرانجام دست ارتش را از کنترل قدرت سیاسی کوتاه کند.

قدرت واقعی دست کیست؟

درک این‌که قدرت واقعی در پاکستان دست کیست، دشوار نیست. خان به‌عنوان نخست‌وزیر خدمت می‌کند، اما اکثر تصامیم دست جنرال قمر جاوید باجوا، رئیس ستاد ارتش پاکستان است. باجوا مستقلانه روابط خارجی پاکستان را با متحدان مهمی همچون چین و عربستان سعودی مدیریت می‌کند، تصمیم‌گیری‌ها در مورد همسایگان پاکستان یعنی افغانستان و هند را کنترل می‌کند، با رهبران تجاری این کشور تشکیل جلسه می‌دهد و حتی درباره سیاست‌های داخلی مهم دولت، مانند اعمال قرنطینه سرتاسری به خاطر همه‌گیری کووید-۱۹ تصمیم می‌گیرد. کهنه‌سربازان بازنشسته یا غیرنظامیانی که ارتباط تنگاتنگی با ارتش دارند، در کابینه خان سمت‌های کلیدی از جمله وزارت‌خانه‌های داخله، دارایی، بازرگانی، امنیت ملی و کنترل مواد مخدر را در دست دارند. حتی اداره سازمان‌های مهم سکتور دولتی که با مسکن عمومی و مدیریت حوادث سروکار دارند، در دست افسرانی برحال ارتش است.

اما چگونه ارتش پاکستان به این جا رسید؟

پایان آخرین دوره حاکمیت نظامی در پاکستان در سال ۲۰۰۷ موجب گذار معنادار این کشور به سمت حکومت دیموکراتیک شد. قیام مردمی در پاکستان جنرال دیکتاتور پرویز مشرف را از قدرت بیرون راند. و برای اولین‌بار در تاریخ این کشور، حکومت‌های منتخب دو حزب مهم کشور (حزب چپ میانه مردم پاکستان به رهبری آصف علی زرداری و حزب راست میانه مسلم لیگ پاکستان به رهبری نوازشریف) دوره‌های حکومت ملکی خود را به پایان رساندند. حزب مردم پاکستان در سال ۲۰۱۳ قدرت را به طور مسالمت‌آمیز به رقیب سرسخت خود مسلم لیگ نوازشریف واگذار کرد و هر دو طرف در برابر عادت گذشته خود که مراجعه به دروازه جنرالان برای منافع سیاسی بود، مقاومت کردند. همچنین این دو حزب در کنار هم برای تصویب هجدهمین متمم قانون اساسی در سال ۲۰۱۰ کار کردند، متممی که با تمرکززدایی اختیارات اداری و مالی و تفویض آن به ایالات، محدودکردن صلاحیت‌های رئیس‌جمهور (که به رئیس دولت پاکستان اختیار داده بود تا خودسرانه حکومت‌های منتخب را منحل کند) و بازگرداندن صلاحیت نخست‌وزیر برای تعیین روسای نظامی و فرمانداران، ساختار پارلمانی فدرال موردنظر این کشور را بازگرداند. همچنین این متمم ماده ٦ قانون اساسی پاکستان را که کودتای نظامی را «خیانت بزرگ» دانسته و مجازات آن‌را اعدام می‌داند، برای بازداشتن قوه قضائیه از قانونی‌کردن کودتاه (کاری که در گذشته انجام شده بود) تغییر داد. این تغییرات سبب خودمختاری بیشتر ایالت‌ها شد؛ خودمختاری که به طور سنتی توسط سلطه‌جویی دولت مرکزی از ایالت‌ها سلب شده بود. این تغییرات همچنین ارتش را از سؤاستفاده از اختیارات اجرایی ریاست‌جمهوری علیه نخست‌وزیر باز می‌دارد و موانع قانون اساسی در برابر کودتای نظامی را تقویت می‌کند.

طی یک دهه پس از سرنگونی حکومت مشرف رهبران ملکی منتخب پاکستان تلاش کردند تا کنترل امنیت ملی، سیاست خارجی و بودجه کشور را در اختیار بگیرند. جنرال‌ها با تلاش برای تحریف دیموکراسی (به جای از میان برداشتن آن به صورت کامل) سعی کردند به این چالش‌ها پاسخ دهند. جنرال‌ها گرچه وانمود کردند که از حکومت ملکی منتخب حمایت می‌کنند، اما پیوسته هم حکومت حزب مردم پاکستان و هم حکومت مسلم لیگ شاخه نواز را به طرق مختلف از جمله با سرپیچی آشکار از آن‌ها و تهدید به سرنگون‌کردن دولت‌هاشان، به دلیل اختلاف‌نظرهای سیاستی، تضعیف کردند. رهبران نظامی به ویژه از شریف به این دلیل که خواستار محدودکردن استفاده ارتش از شبه‌نظامیان اسلام‌گرا علیه هند بود، و به دلیل به چالش‌کشیدن مستقیم معافیت از مجازات ارتش با متهم‌کردن مشرف به خیانت در سال ۲۰۱۴، ناراحت بودند.

جنرال‌ها برای جایگزین‌کردن شریف یک فرصت ایده‌آل را در هم‌دستی با خان یافتند. خان، بازیکن کرکت شدیداً محبوب و عاری از اتهامات فساد شخصی بود که حمایت گروه‌هایی از طبقه متوسط تحصیل‌کرده و شهری پاکستان را به خاطر مبارزه پوپولیستی اش علیه فساد سیاست‌مداران سنتی، با خود داشت. علاوه‌براین، خان مایل بود تا نسبت به جنرال‌ها در صحنه قدرت یک پله پایین‌تر بازی کند و گفته می‌شود که با سازمان آی‌اس‌آی، قدرت‌مندترین سازمان استخباراتی پاکستان، ساخت‌وباخت کرده بود تا اعتراضات چند ماهه سال ۴۲۰۱ را که خواستار برکناری شریف به دلیل ادعای تقلب در انتخابات سال ۲۰۱۳ بود، به راه اندازد. گفته می‌شود که ارتش شریف را تحت فشار قرار داد تا استعفا دهد، اما پس از آن که احزاب اپوزیسیون، از جمله حزب مردم پاکستان، به اتفاق آرا در پارلمان وعده دادند که با هرگونه مداخله ارتش مخالفت می کنند، عقب‌نشینی کرد.

جنرال‌ها برای آماده‌سازی زمینه برای صعود خان به قدرت، از طریق یک تحقیق قضایی جنجالی مرتبط با اسناد پاناما، یک تحقیق جهانی در مورد استفاده مخفیانه شریف از حساب‌ها بانکی‌اش در بهشت‌های مالیاتی، شریف را از داشتن سمت دولتی در سال ۲۰۱۷ سلب صلاحیت کردند. آی‌اس‌آی همچنین برخی اعضای مسلم لیگ نواز را تحریک به جداشدن از این حزب کرد و برخی از ناظران ادعا کردند که نیروهای مستقر در مراکز رأی‌دهی، شمارش آرا را در انتخابات پارلمانی ۲۰۱۸ دست‌کاری کردند. همه‌ی این اقدامات به پیروزی حزب خان کمک کرد.

توازن میان دیموکراسی و دیکتاتوری

ارتش از زمان روی‌کارآمدن عمران خان تاکنون با مهار هرگونه مخالفت و بستن هرگونه راه برای مخالفت، تلاش کرده است تا پاکستان را در «نیمه‌ی راه به دقت ترسیم شده بین دیموکراسی و دیکتاتوری» حفظ کند. ارتش فشارهایش را بر گروه‌های جامعه مدنی، رسانه‌ها، احزاب اپوزیسیون و حتی قوه قضائیه افزایش داده است. نگران کننده‌ترین تاکتیک در جعبه ابزار اقتدارگرایانه ارتش، ناپدیدکردن‌های اجباری مخالفان است. در ماه جولای، پرسنل استخباراتی ارتش پاکستان با لباس مأموران پولیس مطیع‌الله، روزنامه‌نگار برجسته پاکستان را که به انتقاد شدید از ارتش معروف است، از خیابانی شلوغ در مرکز اسلام‌آباد پایتخت ربودند. رابیندگان مجبور شدند او را پس از چند ساعت آزاد کنند، زیرا این آدم‌ربایی از طریق دوربین مداربسته ضبط شده بود و خشم مردم را در رسانه‌های اجتماعی برانگیخته بود. بقیه اما به اندازه مطیع‌الله جان اقبال نداشتند.

در سال‌های اخیر، سازمان‌های استخباراتی ارتش پاکستان ناسیونالیست‌های منطقه‌ای بلوچ، پشتون و سندی، مدافعان حقوق بشر، روزنامه‌نگاران و استادان پوهنتون را به زور ناپدید کرده‌اند. دست‌رسی به اطلاعات موثق دشوار است، اما آمار رسمی نشان می‌دهد که از سال ۲۰۰۹ تاکنون مراجع ۴۵۵۷ جسد را که گمان می‌رود قربانیان قتل‌های فراقانونی دستگاه‌های امنیتی باشند، پیدا کرده‌اند. فعالان حقوق بشر می گویند که از سال ۲۰۱۴ تاکنون ۵ تا ٦ هزار نفر به زور ناپدید شده‌اند. یکی از آن‌ها ادریس ختک، فعال ۵٦ ساله حقوق بشر بود که در نوامبر ۲۰۱۹ حوالی شهر پیشاور ناپدید شد. پس از تلاش‌های پی‌گیر دختر ادریس ختک و مدافعان حقوق بشر برای پیداکردن وی، مقامات استخباراتی اردو ماه جون سال گذشته اعتراف کردند که ختک در بازداشت آن‌ها بود. ادریس ختک همانند بی‌شمار دیگر، تا امروز در بازداشت دستگاه‌های امنیتی پاکستان به سر می‌برد.

جنرال‌ها سعی کرده‌اند با «تهدید برای امنیت ملی» قلم‌دادکردن پیمان‌شکنی و فساد حکومت‌های ملکی، کودتاها و حاکمیت‌های نظامی گذشته‌شان را توجیه کنند؛ اما اخیراً یک رسوایی مرتبط با فساد در پاکستان ریاکاری نهادی ارتش را برملا کرده و پرسش‌های نگران‌کننده‌ای را درباره میزان پوسیدگی و فساد در سطوح بالای نیروهای مسلح این کشور ایجاد کرده است. تحقیق روزنامه‌نگار احمد نورانی نشان داد که اعضای خانواده دگرجنرال بانفوذ سابق ارتش، عاصم سلیم باجوه، که درحال حاضر رئیس اداره «دالان اقتصادی پاکستان-چین» است (اداره‌ای که بر پروژه‌های زیربنایی ۷۰ میلیارد دالری تحت حمایت چین در چارچوب″ ابتکار کمربند و راه ″در پاکستان نظارت می کند)، مالک یک امپراتوری تجاری چندین میلیون دالری متشکل از مراکز خرید، املاک مسکونی، رستوران‌ها و شرکت‌های ساختمانی و مخابراتی در کانادا، پاکستان، امارت متحده عربی و ایالات متحده هستند. باجوه این ادعاها را رد کرد درحالی‌که گفته می‌شود مأموران استخباراتی اردو یک مقام غیرنظامی مظنون به کمک در تحقیقات نورانی را ربوده‌اند.

فشار ارتش بر رسانه‌ها، تأثیر این رسوایی را کم‌رنگ کرده است. مأموران سازمان‌های استخباراتی ارتش و «روابط عمومی بین سرویس‌ها» که بازوی رسانه‌ای ارتش به شمار می‌رود، معمولاً تصمیم می‌گیرند کدام خبرها و مقاله‌ها نشر شوند، چه کسی می‌تواند در میزگردها مصاحبه کند، موضوع گفت‌وگو در این برنامه‌ها چه باشد و حتی چه کسی مصاحبه‌کننده باشد. ارتش سازمان اصلی مبارزه با فساد پاکستان یعنی «اداره حساب‌دهی ملی» را به ابزاری برای انتقام‌گیری سیاسی تبدیل کرده و از آن برای هدف قراردادن رهبران حزب مردم پاکستان و حزب مسلم لیگ نوازشریف استفاده می‌کند. جنرال‌ها همچنین برای محکوم‌کردن مخالفان سیاسی مانند شریف، دستگاه قضایی را دست‌کاری می‌کنند. در پاکستان یک قاضی، تحت فشار ارتش و به دستور ارتش، نخست‌وزیر سابق را به ناحق در یک پرونده فساد به هفت سال زندان محکوم کرد. کسانی که از دستور ارتش سرپیچی می‌کنند مجبورند هزینه سنگینی بپردازند. قاضی فیض عیسا، قاضی ستره محکمه‌ی پاکستان، پس از انتقاد از اردو به دلیل «فعالیت‌های غیرقانونی» از جمله سانسور رسانه‌ها و توزیع پول برای جلب رضایت اعضای یک گروه افراطی اسلام‌گرا که در یک درگیری خشونت‌بار با دولت وقت مسلم لیگ نواز شریف در سال ۲۰۱۷ دخیل بود، مجبور شد به دلیل «بدرفتاری فاحش» با استیضاح روبه‌رو شود.

چالش برای ارتش

با این‌حال در ماه‌های اخیر ارتش و عمران خان شاهد چالش روبه‌رشدی بوده‌اند. احزاب قبلاً باهم درگیر پاکستان در سپتامبر ۲۰۲۰ زیر چتر جنبش دیموکراتیک پاکستان جبهه متحد بی‌سابقه‌ای را تشکیل دادند. ده‌ها هزار معترض مخالف روز یک‌شنبه هفته گذشته در شهر لاهور گردهم آمدند. شریف، در سخنرانی‌های آتشین متعددش از لندن (جایی که وی به قید وثیقه طبی به سر می‌برد و درحالی‌که دادگاه عالی اسلام‌آباد او را درحال «گریختن» از اتهاماتش در پاکستان اعلام کرده است) حامیان نظامی خان از جمله قمر جاوید بجوا و فیض حامد (رئیس آی‌اس‌آی) را هدف گرفته است و آن‌ها را متهم کرده است که از طریق تقلب در انتخابات ۲۰۱۸ وی را از قدرت رانده‌اند و خان را به‌عنوان آله دست ارتش به قدرت رسانده‌اند. جنبش دیموکراتیک پاکستان به خان فرصت داده است تا اواخر جنوری ۲۰۲۱ استعفا دهد و زمینه را برای انتخابات پارلمانی جدید فراهم کند و در صورت عدم انجام این کار، اعلام کرده است که برای اجرای خواسته‌اش در ماه فبروری به سمت اسلام‌آباد راهپیمایی کند.

کارزار اعتراضی اپوزیسیون و به تبع آن تلاش دولت برای تضعیف و ضربه‌زدن به اعتراضات، احتمالاً در ماه‌های آینده شدت خواهد گرفت. معلوم نیست که آیا جنبش دیموکراتیک پاکستان موفق خواهد شد یا خیر، اما تردیدی نیست که ادامه‌ی سلطه‌ی ارتش بر حیات سیاسی پاکستان تهدیدی آشکار برای آزادی‌های دیموکراتیک و نیز حاکمیت قانون است. برای اولین‌بار در تاریخ پاکستان توافق گسترده‌ای در طیف ایدئولوژیک احزاب اپوزیسیون در مورد نیاز به تفوق حکومت ملکی بر ارتش به میان آمده است. دانشگاهیان، فعالان حقوق بشر و روزنامه‌نگاران به رغم خطرات جدی و حتی درحالی‌که ارتش جامعه مدنی را سرکوب و آزادی بیان را محدود می‌کند، همچنان صدای خود را در برابر قدرت بلند می کنند.

متأسفانه جامعه بین‌المللی از جمله ایالات متحده‌ی تحت ریاست‌جمهوری دونالد ترمپ تا حد زیادی نسبت به وضعیت نابه‌سامان دیموکراسی در پاکستان بی‌تفاوتی اختیار کرده و نخواسته‌اند ارتش این کشور را تحت فشار قرار دهند. وعده‌ی رئیس‌جمهور منتخب جوبایدن مبنی بر ترویج دیموکراسی و ارتقای حقوق بشر دست‌کم این امیدواری را ایجاد می‌کند که دولت وی در برابر خودکامگی جنرال‌ها در پاکستان تحمل کمتری خواهد داشت. دولت باید و سایر دونرهای مهم خارجی پاکستان به‌عنوان اولین گام باید صدای‌شان را علیه حمله‌ی جنرال‌های پاکستانی بر دیموکراسی و دیموکرات‌ها بلند کنند. اما دو صد گفته چو نیم کردار نیست. مقامات امریکایی باید تهدید کنند که در صورت ادامه‌ی این حملات از ابزارهای مشخص سیاستی، مانند ممنوعیت هدف‌مند سفرهای افراد و تحریم‌های مالی علیه پلوتوکرات‌های یونیفرم‌پوش پاکستان، استفاده خواهند کرد. نشان‌دادن حمایت ایالات متحده از دیموکراسی و حقوق بشر در پاکستان نه‌تنها کار درستی است، بلکه در خدمت منافع بلندمدت ایالات متحده در زمینه صلح و ثبات در منطقه نیز عمل می کند. ارتش و آی‌اس‌آی در یک پاکستان واقعاً دیموکراتیک فرصت چندانی برای فراهم کردن زمینه و صادرکردن افراط گرایی اسلام گرایانه خشونت‌بار به کشورهای همسایه نخواهند داشت (حتی اگر چنین تغییر سیاستی تدریجی باشد). ادامه‌ی سکوت بین‌المللی فقط باعث تشجیع جنرال‌ها خواهد شد تا هر کاری که خواستند، انجام دهند؛ جنرال‌هایی که به هیچ کس پاسخ گو نیستند.



# د نوي میلادي کال په مناسبت د شي جین پینگ وینا ته د ځینو افغانانو غبرگونونه

لیکنه: ډېوه
د چین میډیا گروپ د پښتو څانگې خبریاله

د ۲۰۲۱ کال د پیل په درشل کې د چین رهبر شي جین پینگ له بېجینگ څخه د نوي کال د مبارکۍ لپاره ویډیویي وینا خپره کړه. په دغه وینا کې خپرې شوې روحیې او نظریې د ډېرو خلکو پام را جلب کړی. شي جین پینگ په خپله وینا کې د کووید-۱۹ وبا ضد مبارزې په هکله داسې وویل، سمه لاره به گوښې پاتې نه شي او ټوله نړۍ د بشر شریک کلی دی. له یو کال راهیسې موږ د پخوا په پرتله د بشریت د گډ برخلیک ټولنې په مانا ښه پوه شوي یو. ما د نړۍ له ډېرو پخوانیو او نویو دوستانو سره ټیلیفوني خبرې کړې او په ډېرو انلاین نړیوالو غونډو کې مې گډون کړی دی. په دغو خبرو او غونډو کې مې ډېر ځله پر دې ټینگار کړی چې موږ دې د کووید- ۱۹ وبا ضد مبارزه کې یووالی وساتو او یو له بل سره دې مرستې وکړو. د دې وبا د وقایې او کنټرول دنده درنده او مهمه ده. نړیوال دې دغې وبا ته د ماتې ورکولو او د گردې کرې د ښې ابادۍ لپاره گډ کوښښونه وکړي.

په دې هکله د افغانستان د روغې وېبپاڼې څښتن ډاکټر نیک محمد ویال د کووید-۱۹ وبا د وقایې او کنټرول په چارو کې د چین د نه ستومانه کیدونکو کوښښونو او بریالیتوبونو ستاینه وکړه او ویې ویل، د نړۍ د نورو هېوادونو په پرتله له کرونا ویروس سره په مبارزو کې د چین تجربه پخه ده. چین وکولی شو چې په ښه ډول د کرونا ویروس له امله رامنځته شوی بحران مدیریت کړي، د سترو انساني او مالي زیانونو مخه ونیسي. د واکسین د جوړولو په برخه کې هم د چین هڅې لومړنۍ او بیړنۍ وې. هغه مهال چې په نړۍ کې نور هېوادونه د کرونا له ویروس سره پر مبارزه بوخت وو، چین یاد ویروس کنټرول کړ او د واکسین په څېړ وقایوي لارو یې کار کاوه. نوموړي زیاته کړه، په پښتو کې یوه اصطلاح ده چې وایي: د یوې داسې وبا پر وړاندې د ټولې نړۍ یووالي ته اړتیا شته، په یووالي کې هم واک شته، هم ځواک، یوازې په یووالي سره موږ کولی شو چې د یوې داسې سختې وبا چې انسان ورسره مخامخ وي، مخه ونیسو. د چین د رهبر دا ډېر یو پاک او لوی وړاندیز دی. د چین هېواد وگړي چې دې تل لوی زړه لري او د مهربان فکر خاوندان دي.

د کرونا بخش کې د ډاکترانو د گروپ مشر او د اورتوپیډي متخصص رامین په دې هکله خپل نظر داسې څرگند کړ: په ټوله کې چین له کرونا ویروس سره په مبارزه او کنټرول کې لومړۍ تجربه لري، کوم چې د نورو هیوادونو لپاره د ساینس او څېړنې ښه سرچینه ده او ډېری هیوادونه د تجربې په کارولو توانیدلي دي. د چین روغتیا سیسټم ساینسي مقالې او وړاندیزونه خپاره کړي چې د کرونا ویروس په له منځه وړلو او کنټرول کې د پام وړ لاسته راوړنې لري.

دا روښانه ده چې په نړۍ کې د کرونا پدیدې ته په پام سره، د نړۍ ټول هیوادونه د یو بل ملاتړ او همکارۍ ته اړتیا لري او په هر سکټور کې دا ملاتړ او همکاري مهمه ده. دا خبر امید ورکوونکی کیدی شي، ځکه چې د کرونا ویروس جوړولو او چمتو کولو کار د نړۍ په ډېری هیوادونو کې په بشپړېدو دی. د چین رهبر شي جین پینگ په خپله وینا په ځانگړې توگه په دغه هېواد کې د بېوزلۍ له منځه وړلو په چارو کې خپلې نظریې څرگندې کړې او ویې ویل، په ۲۰۲۰ کال کې چین په هره ساحه کې د نسبتاً شتمنې ټولنې د ابادولو په اړه ستر تاریخي بریالیتوب او له بېوزلۍ سره په مقابله کې پوره کامیابي تر لاسه کړې ده. د ډېرې بېوزلۍ ضد عمومي مبارزه مو کړې او ډېرې سختې ستونزې مو لرې کړې دي. په دې هکله د افغانستان د زما راډیو منیجر عطاالله عمر وویل، چین په نړۍ کې د زیات نفوس لرونکی هیواد دی. د چین دولت د خپلو خلکو د هوسا ژوند لپاره له تېرو اتلسو کلونو راهیسې د پام وړ لاسته راوړنې لرلې دي. د چین رهبر شي جین پینگ د ۲۰۲۱ کال په مناسبت په خپله وینا کې ویلي، چې په تېرو اتو کلونو کې د اوسني معیار له مخې د چین په کلیوالو سیمو کې ۸۳۲ ولسوالۍ او کابو سل میلیونه کسان له بېوزلۍ څخه وتلي دي. ویلی شو چې په دې برخه کې د چین ولسي جمهوریت د پام وړ بریالیتوب تر لاسه کړی دی. په اوسني عصر کې چې نړۍ د کرونا ویروس له سختې حملې سره مخ ده؛ د چین دغه اعلان ښیي چې دغه هیواد پیاوړې اقتصادي برنامه لري او کولای شي چې د چینایانو ژوند ته مثبت بدلون ورکړي.

د کندهار پوهنتون پروفیسور محمد نظیر ځدراڼ په چین کې د بېوزلۍ له منځه وړلو په چارو کې د بریالیتوبونو ستاینه وکړه او ویې ویل، د نوي کال په مناسبت دبېوزلۍ په برخه کې د چین د دولت رییس خبرې ډېرې هیله ښونکې وې، چې خبرې یې ټولې په متوازن پرمختگ باندې ورټولې او متمرکزې وې، چې متوازن پرمختگ د بېوزلۍ په له منځه وړلو کې ډېر مهم رول لري. که څه هم په ۲۰۲۰ کال کې د کرونا ناورین رامنځ ته شو، خو بیا هم د کرونا د منفي اغېزو تر څنگ، پخپل قوي هوډ سره یې دې وتوانید چې په ټاکلي وخت کې د بېوزلۍ د له منځه وړلو موخې ته ورسیږي، چې دا د چین دولت یوه لاسته راوړنه بولم. دغه لاسته راوړنې به د دې باعث شي چې د بېوزلۍ ځپلو هیوادونو ته د بېوزلۍ په له منځه وړلو کې به یوه قوي روحیه ورکړي. له بلې خوا به د نورو پرمختیایي هیوادونو سره په دې برخه کې لازمه همکاري وکړي اوگډ پرمختگ ته به زمینه برابره شي.

# د پمپیو زهرجنې څرگندونې؛

## مشرانو جرگه: امریکایانو ته خپل سرتېري مهم دي، د افغانانو د وینو پروا نه ساتي



امریکا پر دې خوښي ښودلې چې په تېر کال کې یې په افغانستان کې یو سرتېری هم په جگړه کې نه دی وژل شوی، خو په دې یې هېڅ نه دي ویلي چې د دوی پیل کړې جگړه دلته هره ورځ د افغان انسان ژوند اخلي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په تازه ټویټ پیغامونو کې د سولې په برخه کې د ټرمپ له تگلارې هم ملاتړ کړی او د هغه پلان یې بریالی بللی دی. بلخوا افغان حکومت بیا ویلي، دا سمه ده چې په دې جگړه کې امریکایي عسکر نه دي وژل شوي، خو روان تاوتریخوالی د جدي اندېښنې وړ دی.

په تېر میلادي کال کې طالبانو او امریکا په دوحه کې د سولې تړون لاسلیک کړ چې د همدې تړون تر لاسلیک وروسته په افغانستان کې امریکایي عسکر خوندي شول، خو پر افغان پوځیانو جگړې او بریدونه لا هم دوام لري. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو پر دې خوښي ښودلې چې په تېر میلادي کال کې یې ان یو عسکر هم په افغانستان کې نه دی وژل شوی. نوموړي په یو لړ ټویټ پیغامونو کې ویلي: ((زموږ پلان بریالی و، د سولې لپاره د ټرمپ تگلاره اغېزناکه وه، په تېر یوه کال کې هېڅ امریکایي عسکر په افغانستان کې نه دی وژل شوی)).

مایک پمپیو په ټویټ پیغامونو کې د ټرمپ تگلاره او ډیپلوماسي هم پیاوړې بللې او په خبره یې، د همدې تگلارې پر مټ دوی بریالي شول چې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل کړي. پمپیو وایي، اوس افغان حکومت او طالبان خبرې کوي چې دا د امریکایي ډیپلوماسۍ پیاوړتیا ښیي. بلخوا افغان حکومت بیا د پمپیو پر دغه څرگندونو غبرگون ښودلی دی. افغان حکومت وایي، دا سمه ده چې په افغان جگړه کې د بهرنیو په تېره د امریکایي عسکرو وژل کېدل دربدلي دي، خو بلخوا دا جگړه خونړۍ شوې او هره ورځ د افغانانو ژوند اخلي. د ولسمشر دویاند مرستیال دواخان مینه‌پال وایي، د سولې تر هوکړې وروسته د دې اړتیا وه چې دلته روانې جگړې کمې شي او مذاکرات یوې پایلې ته ورسول شي، خو برعکس طالبانو د افغان حکومت او افغان سرتېرو پر وړاندې جگړې شدیدې کړې چې دا مسئله د جدي اندېښنې وړ ده. د مینه‌پال په خبره، طالبانو اوس د امریکا پر وړاندې جگړه پرې ایښې ده، نو د ولس او حکومت پر وړاندې جنگېږي.

د دې ترڅنگ د مشرانو جرگې غړو هم د تېرې ورځې په غونډه کې د مایک پمپیو پر څرگندونو غبرگون وښود. د مشرانو جرگې مرستیال محمد علم ایزدیار وایي، امریکا غوښتل چې په افغانستان کې یې مالي او ځاني تلفات کم شي، دوی خپلو موخو ته ورسېدل، خو د افغانانو تلفات او مالي زیانونه دوی ته بې تفاوته دي. د ده په خبره: ((د مایک پمپیو څرگندونو خلک هوښیار کړي دي. هېڅوک دلته زموږ لپاره نه دي راغلي. دا خلک ټول د خپلو گټو لپاره راغلي دي، هر څوک خپلې گټې لري)).

ایزدیار دغه راز وویل چې افغان حکومت باید د پمپیو له خبرو پند واخلي. د ده په خبره، په دې یوه کال کې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ تړون شوی، په هېواد کې د طالبانو د جگړو له امله زرگونه ملکي او نظامي افغانان وژل شوي چې پمپیو یې په اړه هېڅ راز غبرگون هم نه دی ښودلی او دوی ته هېڅ مهم نه دي. د مشرانو جرگې رییس فضل الهادي مسلمیار هم وایي، دا د شرم ځای دی چې پمپیو د خپلو سرتېرو د نه وژل کېدو یادونه کوي، خو د زرگونه افغانانو د وینو تویېدل ورته اهمیت نه لري. هغه په کنایي ډول زیاته کړه: ((موږ له پمپیو څخه گیله نه لرو، ځکه دوی د خپلو گټو خبره کوي، دا چې امریکایي عسکر په دې موده کې نه دي وژل شوي طالبانو او امریکا ته دې مبارک وي)).

پمپیو داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې لا هم د امریکا روانه کړې جگړه په خپل شلم کال هم له افغانانو قرباني اخلي، امریکایان په خوندي نظامي اډو کې دي، خو جگړه د افغان انسان پر کور او کلي لا هم روانه ده او افغان انسان یې د ویر پر ټغر کېنولی دی.

# کرونا او د مړینې زیاتوالی؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ۸۴۵ زره او ۲۵۹ کسانو ته ورسېد




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۸۵ میلیونه او ۵۶ زره او ۸۰۸ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۸۴۵ زره او ۲۵۹ کسان مړه شوي او له ۶۰ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۲۰ میلیونه او ۹۰۴ زره او ۷۰۱ ته رسېدلي او ۳۵۸ زره او ۶۸۲ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱۰ میلیونه او ۳۲۴ زره او ۶۳۱ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۷۱۶ زره او ۴۰۵ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د درې میلیونه او ۲۳۶ زره او ۷۸۷ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۶۴۳ زره او ۲۳۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي. بلخوا د نړۍ په بېلابېلو هېوادونو کې د کرونا ویروس د پېښو د زیاتېدو پر وړاندې د مبارزې لپاره محدودیتونه لا سختېږي.


دغه راز په اروپا، د امریکا په متحده ایالتونو او نورو هېوادونو کې د دغه ویروس ضد واکسین د ورکړې بهیر هم روان دی. د کرونا ویروس نوې بڼې چې په چټکۍ په خلکو کې خپرېږي او په گڼو هېوادونو کې خلک وربانديې اخته شوي، اندېښنې زیاتې کړې دي. په فرانسه کې هم د کرونا د نوې بڼې له زیاتېدو سره هممهاله د دغه هېواد چارواکو په هغو سیمو کې چې د دغه ویروس د خپرېدو خطر زیات دی، د گرځبندیز وخت زیات کړی دی. راپورونه وایي چې د روانې اونۍ له پیل راهیسې د فرانسې په شمال ختیځو سیمو کې د نورو سیمو په پرتله له مخکې بندیزونه پیل شوي دي. په دغو ۱۵ سیمو کې چې له جرمني، بلجیم او سویس سره پوله لري، شاوخوا ۶ میلیونه وگړي اوسي.

## د کتاب خبري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
**کشمير**




سېنها: په دې حکومت کې نه.
دولت: نه، په یوه حکومت کې به هم نه شي، ان که د ده خپل حکومت هم وي. خلک پر ده جدي حساب نه کوي، دا د تأسف ځای دی.
دوراني: موږ يې د لومړي وزير مرستيال کولای شو. موږ په پوره ډاډ ويلی شو چې هغه به ستاسو له خوا راغلی وي، خو دی زموږ غوښه او هډ دی. ځکه نو زه وايم چې موږ يې د لومړي وزير مرستيال کولی شو. فاروق به د دې وړانديز په منلو کې زړه نا زړه وي، خو دا به ډېر شاهکار وړانديز وي.
خو د پيشو په غاړه کې زنګ څوک اچوي؟ دې خطر ته به څوک غاړه ورکړي.
سېنها: څوک هم د پېريانو کور ته کاڼي نه ور اچوي. د غومبسو ځالې ته ګوتې نه ور وړي.
دولت: مفتي صېب بايد په ډېر قدر او عزت ښخ شوی وای. خو محبوبې او نورو دا هر څه سرچپه کړل. د «پدما شېرۍ» عالي مډال د «کوکا پېرۍ» ته د بلوا ضد هڅو او کارونو لپاره ورکړل شو. فاروق عبدالله د هند لپاره ډېر خدمتونه کړي.
دوراني: فاروق هېڅ هم ترلاسه نه کړل.
دولت: هو، هېڅ يې تر لاسه نه کړل.
دوراني: چې څه کړې هغه به رېبې.

**۱۳**

### چې څه په لاس درځي، اخله يې

دوراني: د کشمير په تړاو يوه پخوانۍ حللاره ده. واقع‌ګرا کس ته به دا معلومه وي چې د دواړو هېوادونو ګټې په څه کې دي. دا د لانجې موضوع، لانجمنه موضوع ده. موږ بس هم دا خبرې تکراروو چې: دا مسئله بايد حل شي، يوه وروستۍ (فاينل) حل لاره بايد پيدا شي، موږ ته دا مهمه موضوع ده او داسې نورې خبرې.
خو دا مسئله مثبت بدلون کولای شي. که کشمير د دواړو هېوادونو د همکارۍ د توجه پر مرکز بدل شي، نو دا مسئله به ښه حل شي.«له لانجې څخه همکاري» به ډېر معقول شعار وي.
دولت: بالکل، هو بالکل.
دوراني: زموږ طرحه دا ده، په خپلواکۍ پسې مه ګرځئ، ۳۷۰يمې مادې ته مه ګورئ او صفري کرښه له پامه وغورځوئ.
سېنها: په کشمير کې د همکارۍ لپاره بايد کوم لومړني ګامونه واخيستل شي؟
دوراني: بيا اختراع کولو ته يې اړتيا نشته. تر موږ وړاندې خلکو، هوښيارو خلکو ورته لاره پيدا کړې ده. دوی د خلکو له سوېې را پيل کوله.يو ساده حرکت، لږه سوداګري؛ کشميريان دې خپله دا کارونه کوي، اسلام‌اباد او ډيلی دې ورته د خير په غونډۍ کښېني.
خلک چې يو څه د آرامۍ ساه واخلي، په خپله به وايي: «موږ نه غواړو چې ستاسو دواړو هېوادونو تر منځ دې داسې مهمه مسئله يو چې سر يې جګړې ته سره ورسېږي او داسې نور. موږ چې ښنګه يو بس همداسې ښه يو. لوی بدلون نه غواړو». کشميريان به بيا موږ ته وايي: «تاسې دواړه هېوادونه بايد زموږ مثال کاپي کړئ».
خو دا کار بايد په نا مستقيم ډول وشي. د دې پر ځای چې پر دوو بېلو کشميرونو، يا متحد کشمير او يا هم نورو حل لارو خبرې وکړو، زما وړانديز دا دی چې موږ بايد نامستقيم عمل وکړو. پيل يې بايد له کوچنيو ګامونو لکه د دواړو سيمو تر منځ د تګ راتګ له يوه بس او د دواړو کشميرونو تر منځ له سوداګرۍ وکړو.
دولت: د اعتماد پر رغولو ډېر حساب کېږي.
دوراني: له دې ويلو پرته بايد دوام ورکړئ چې په پای کې څه غواړی؟ د لانجې د حل خبره چې کوو، نو دا يوه انقلابي پروسه وي.
د ټولو خواوو بايد دا جمعي معرفت(مقوله) په ياد وي: هر هغه څه چې غواړې، لاس ته يې نه شې راوړلی.
سېنها: بيا نو دا خبره « منه دې وي، له ولې دې وي» ډېره معقوله ښکاري.
دوراني: په ۲۰۰۰م کال کې «يهود بارک»، ياسر عرفات ته يو وړانديز وکړ.يهود بارک تر صدارت وړاندې د دفاع وزير او يو ډېر ښه سرتېری و. ښايي دی به د اسرائيلو د تاريخ تر ګردو لوی لومړی وزير نه وي، خو د ده وړانديز ښه و. که سړی دغه وړانديز لږ ژور مطالعه کړي، ښايي نيمګړتياوې پکې پيدا کړي. خو دغه معرفت پکې نغښتی و او دغسې روح يې درلود. خدای مې دې غاړه نه بندوي، ځکه د پيغمبر (ص) لخوا د «حديبيې تړون» د منلو په تړاو ډېر نه پوهېږم. ما يوازې په دې تړاو لوستي دي. ښايي په دغه تړون کې موږ ته دا درس پروت وي چې موږ بايد جوړجاړی وکړو او د وخت اهميت وپېژنو.
فلسطينيانو چې د دې وړانديز پر ګڼو اړخونو نيوکې وکړې، مطلب يې دا و چې دوی به له اسرائيلو سره هله جوړجاړی کوي چې د دوی ټولې غوښتنې ومني. دا يوه تېروتنه وه، ځکه نو دا سر مشريزه ناکامه شوه.
**دوام لري...**

# وردګ

حشمت الله نوري



وردګ د طول البلد په ٦٨.٨ درجو او د عرض البلد په ۳۴.۳ درجو کې موقعيت لري، چې د بحر له سطحې ۲۲۱۰ متره لوړوالی لري او نفوس يې شاوخوا اووه سوه زره تنه اټکل شوی .
د وردګو ولايت د هېواد د مرکزي ولايتونو په ډله کې راځي، په ولايتي کچه په درېيمه درجه ولايتونو کې حسابېږي او مرکز يې (ميدان ښار) د کابل ښار سوېل- لوېديځ لور ته په شاوخوا ۳۵ کېلومترۍ کې پروت دی.
د وردګو ختيځ ته لوګر او کابل، لوېديځ ته يې باميان، سوېل- لوېديځ او سوېل ته يې غزني موقعيت لري، شمال- لوېديځ ته يې هم باميان او شمال ته يې پروان ولايت پروت دی. د دغه ولايت ټول مساحت ۱۰۹۱۲ کيلومتره مربع ته رسيږي .
په دغه ولايت کې ټولټال ۴۷ ملکي او نظامي اداري شته، چې ټولې فعاله دي .
دغه ولايت په ۱۳۴۳ لمريز کال کې د ځانګړي ولايت په توګه منل شوی او د کابل- هرات او کابل- باميانو لويې لارې ورڅخه تېرې شوې دي.
په پسرلي او دوبي کې يې هوا معتدله، خو منی او ژمی يې هوا ډېره سړه وي او د ژمي پر مهال پکې ډېره واوره ورېږي او د هېواد په سړو سيمو کې شمېرل کېږي.

**ولسوالۍ**

ميدان ښار د دغه ولايت مرکز او سيداباد، جغتو، چک، دايميرداد (جلګه)، نرخ، جلريز، بهسود اول او بهسود دويم يې ولسوالۍ دي.

**پوهنه**

په وردګو کې په ټولو ٤٥٠ ښوونځيو او تعليمي مرکزونو کې ۱۷۲۸۹۲ زره نجونې او هلکان پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې يې ٤٤٧٩١ نجونې دي .
په دې مرکزونو کې لېسې، منځني او لومړني ښوونځي، دارالحفاظونه، مدرسې، دارالمعليمينونه، دارالعلومونه او تخنيکي ښوونځي موجود دي چې د ۴۷۲۹ استادانو لخوا ورته تدريس کيږي.
دغه ولايت ته دولتي پوهنتون هم منظور شوی، چې تر اوسه پورې يې يوازې د کرهنې پوهنځي فعاليت پيل کړی دی. دغه راز درې خصوصي ښوونځي او د تابش په نامه يو خصوصي پوهنتون هم پر فعاليت بوخت دي. همدارنګه په دې وروستيو کې د دغه ولايت د چک ولسوالۍ د تخنيک انستېټيوټ په ۱۲ بېلابېلو څانګو او د ټوپ د حسابدارۍ انستېټيوټونه هم د پوهنې وزارت لخوا فعال شوي، چې دوه کلنې مسلکي زده کړې پکې کېږي .

**کرنه او مالداري**

د دغه ولايت ډېر وګړي پر کرنيزو چارو بوخت دي او زياتره کورنۍ خپل ژوند له دې لارې تامينوي .
د دغه ولايت کرنيزه ځمکه ۴۳۹۲۱.۴ هکټاره ښودل شوې ده، چې له دې جملې ۳۲٦۹۱ هکټاره يې ابي، ۱۱۱۲۰ هکټاره للمه او ۱۱۰.۴ هکټاره دولتي ځمکه ده. په منځني ډول د دې ولايت د آبي ځمکې ۱۰۹۸۰ برخه هکټاره باغونو نيولې ده.
کېدای شي چې دا شمېر تر دې هم زيات وي، د ځينو سروې ګانو له مخې، شاوخوا ۱۰۷٦۴۱ تنه په دې ولايت کې د بزګرۍ پر چارو بوخت دي. د ياد ولايت ځمکې له سيندونو، کاريزونو، چينو او د ژورو څاګانو له لارې اوبه کيږي.
په دغه ولايت کې د هېواد په کچه زياتې منې کيږي، چې د هېواد پر بېلابېلو ولايتونو سربېره، ځينو هېوادونو ته لکه پاکستان، هند، عربي متحده اماراتو، سعودي عربستان او د منځنۍ اسيا ځينو هېوادونو ته صادرېږي.
غنم، کچالو، جوار، لوبيا، مې، پياز او نور حبوبات يې له نورو کرنيزو توکو څخه دي، چې د دغه ولايت په بېلابېلو سيمو کې کرل کيږي .
که څه هم د دغه ولايت کرنيز حاصلات هر کال د بدلون په حال کې دي، خو بيا هم ځينې سرچينې يې په اوسط ډول د منو کلنی عايد ۱۲۲۹۷٦ ټنو، د کچالو کلنی عايد يې ۹۱۵۳۴ ټنو او د غنمو کلنی عايد يې ۴۱۱۴۷.۵ ټنو ته رسېږي. د دې ولايت ځنګلي ساحه معمولاً غرنيو بادامو پوښلې، چې ٦۰۰ هکټاره يې يوازې د نرخ او جلريز اړوند دي. همدارنګه د علفچر ساحه يې ۱۷٦۵۴۵ هکټاره ده، چې زياته برخه يې د بهسودو په لومړۍ برخه او مرکزي برخه پورې اړوند ده.
دغه راز په دغه ولايت کې ځينې خلک د شاتو د مچيو فارمونه هم لري او له دې لارې يوه اندازه عوايد تر لاسه کوي. دغه ډول د دې ولايت ډېری خلک د څارويو پر ساتنه او پالنه بوخت دي او مالداري يې د عوايدو مهمه سرچينه ده .

**لاسي صنايع**

د دغه ولايت زياتره وګړي چې پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، تر څنګ يې ځينې اوسېدونکي د ټغرو، لمڅيو، شالونو، جاکټ، دستکش، ګنډونه (يخنونه) او له مريو جوړشوي توکي جوړوي او بيا يې په خپلو سيمو او يا نورو ښارونو کې پلوري.

**د اوبو بندونه**

د دغه ولايت په بېلابېلو ولسواليو کې د اوبو اووه اساسي بندونه جوړ شوي دي، چې په جوړېدو سره يې د ياد ولايت په لسګونو زره جريبه حمکه خړوبيږي.
د چک بند د هېواد په کچه د اوبو او برېښنا پنځم لوی بند دی، چې درې لسيزې مخکې يې د کابل ښار ته برېښنا ورکوله، خو په تېرو جګړه ايزو شرايطو کې د دغه بند زيات ځايونه تخريب او وسايل ويجاړ او له کاره ولوېدل .

**کانونه**

په دغه ولايت کې تر اوسه پورې ۳۲ بېلابېل کانونه تثبيت شوي، چې نومونه يې په لاندې ډول دي:
۱ – د بادام د سرخ بيدک د کروميټو کان (نرخ ولسوالي)، ۲- د ابدرې د کروميټو کان (نرخ )، ۳- د تيتمور د کروميټو کان (مرکز ميدان ښار)، ۴- د چغرې د کروميټو کان (نرخ ولسوالي)، ۵- د ده پاک د کروميټو کان (نرخ ولسوالي)، ٦- د لويې ابدرې د کروميټو کان (سيداباد ولسوالي)، ۷- د منګليو د کروميټو کان (سيداباد ولسوالي)، ۸- د هفت اسياب د کروميټو کان (سيداباد ولسوالي)، ۹- د نوريو د کروميټو کان (سيداباد ولسوالي)، ۱۰- د تنګې د چلپيکام د کروميټو کان (سيداباد ولسوالي) او ځينې نور د يادونې وړ دي.
د يادونې ده چې دغه کانونه د ياد ولايت او نورو اړوندو رسمي ادارو لخوا تاييد شوي او دا کانونه د سيمو خلکو ته هم ښه معلوم دي او ځينې سيمه ييز وګړي خو پکې کله ناکله غير قانوني کيندنې هم کوي. که چېرې د کانونو وزارت د نړيوالې ټولنې په مرسته په دغه ولايت کې د کانونو په برخه کې دقيقې څېړنې تر سره کړي، نو لرې نه ده چې په دې ولايت کې به ځينې نورو مهم کانونه هم کشف او راڅرګند شي .

**تاريخي سيمې**

په وردګو کې د ډېرو ځايونو په اړه د خلکو تر منځ په زړه پورې بحثونه کېږي، چې لا تر اوسه ورته رسمي ادارو مخه نه ده کړې او نه يې په اړه څېړنې پيل کړې دي؛ خو په دغه ولايت کې ۱۸ ځايونه تثبيت شوي چې تاريخي سمې دي. له دې ډلې يې مهمې هغه دا دي: ګنبد شاه او د چغتايي خاندان (مرکز کانعزت کلی)، الغتا تاريخي ښار ګوټی (نرخ ولسوالي)، د خواجه بلند ولي تپه (نرخ ولسوالي)، ده مسلم تپه (نرخ ولسوالي)، کشک تکانه غونډۍ (جلريز ولسوالي)، سرچشمه زيارت (جلريز ولسوالي)، انګور باغ (چک ولسوالۍ سياب کلی)، کاپر کلا يا پاره کلا (دايميرداد ولسوالي)، بودک غونډۍ (دايميرداد ولسوالي)، چتو غونډۍ (دايميرداد ولسوالي)، کتب غونډۍ (دايميرداد ولسوالي) او ځينې نور يې مهم دي.

**نامتو څېرې**

غازي محمدجان خان وردګ، ډاکټر عبدالوکيل خان، ارسلان سليمي، غلام نبي خان وردګ، انجنير غلام محمد فرهاد، استادګل محمد، استاد عبدالجليل جدي، عصمتي وردګ، پوهاند عبدالقيوم خان وردګ، والي عبدالله خان وردګ، مولوي عبدالرب احدي، استاد حبيب الله رفيع، پوهاند ډاکټر لطيف بهاند، ډاکتر غلام فاروق وردګ، جنرال رحيم الله وردګ، محمد عارف ننګيار، شهرت ننګيال، پوهاند ډاکټر محمد موسی وردګ، پوهاند اکبر وردګ، محمد زبير شفيقي او ځينې نور کسان د دغه ولايت مشهورې څېرې دي، چې له نومونو سره يې هېوادوال اشنا دي او کېدای شي چې په پورته شمېره کې ځينې نورې پاتې نوموتې څېرې هم ورزياتې شي.

**رسنۍ**

په وردګو ولايت کې که څه هم رسنۍ دومره مخينه نه لري، خو جغرافيوي موقعيت او امنيتي وضعيت ته په پام سره يې رسنيو د نورو برخو په څېر وده نه ده کړې. په دغه ولايت کې مطبوعاتي هڅې او خپرونې په تېرو لسو کلونو کې پيل شوې دي، چې د بېلګې په توګه يې د جغتو، دريځ، عهد، آذان، ځلانده راتلونکې، وردګ، منه، جلګه، ځوانان مهالنۍ او مياشتنۍ خپرونې يادولای شو. د دې تر څنګ دښاروالۍ راډيو چې اوس يې خپرونې بندې شوې دي هم فعاليت کوي. په دغه ولايت کې ځينې نورې رسنۍ هم فعاليت کوي چې مهمې هغه يې دا دي: ملي راډيو- ټلوېزيون، د يووالي غږ، ځلا ټلوېزيون، چک راډيو، ملي هدف، پيزوان، بدلون، ښاروالي اونيزه او مشوره يې د يادونې وړ دي .

**مدني او کلتوري ټولنې**

په دغه ولايت کې د لنډمهالي ادارې په رامنځته کېدو سره ځينې بېلابېلې ټولنې رامنځته شوې دي، چې ځينې يې په لاندې ډول دي:
عهد ادبي او کلتوري ټولنه، د جغتو مدني او کلتوري بهير، د ميدان ځوانانو ادبي او کلتوري ټولنه، د سليمان فارس فرهنګي مرکز (د ميدان خپرندويه ټولنه)، د نرخ ځوانانو عالي ټولنه، د خواخوږي ادبي او کلتوري ټولنه، د وردګو ځوانانو ادبي ټولنه، د چک ادبي بهير، د وردګو ځوانانو مدني ټولنه، د ژورنالېستانو اتحاديه، د ځلاند هنري او تربيوي ټولنه، د ميدان وردګو د ځوانانو ملي ټولنيز ارګان، د خويندو يون ټولنه او ځينې نورې ادبي او کلتوري تولنې په دغه ولايت کې فعالې دي . دغه راز په دغه ولايت کې د منې ګل په نامه مشاعره چې له شاوخوا لسو کلونو راهيسې په دغه ولايت کې په شاندارو مراسمو سره نمانځل کيږي او د هېواد له بېلابېلو ولايتونو څخه ورته هېوادوال راځي، هم د يادونې وړ ده . دغه مشاعره په لومړي ځل په چک ولسوالۍ کې رامنځته او له هغه وروسته د دغه ولايت په بېلابېلو سيمو کې جوړېده، چې د ناامنيو له امله اوس د دغه ولايت په مرکز ميدان ښار کې هر کال جوړيږي.

**لوبې**

په دغه ولايت کې خوسی، غېږنيونه، تيړه اچونه، ژمي پر واوره يخمالک خوړل، چندرۍ، ګام اچول او منډه وهل يې دوديزې لوبې دي، چې له ډېر پخوا راهيسې دود دي؛ خو واليبال، فوټبال، کرکټ، تکواندو، جيدو، وزن پورته کول، د بدن ښکلا او ځينې نورې لوبې په رسمي بڼه په دغه ولايت کې مينه‌وال لري، خو په دې وروستيو کې کرکټ، فوټبال او واليبال لوبو ډېره وده کړې او مينه وال يې زيات شوي دي.
د دغو لوبو د ودې لپاره د شخصي کلبونو تر څنګ، د دغه ولايت په مرکز کې د ترکيې ولايتي بيارغونې ډلې شاوخوا پنځه کاله مخکې يو پراخ لوبغاړی جوړ کړ، چې هر وخت پکې لوبغاړي لوبې تر سره کوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷٫۱ |
| € | ۹۳٫۵ |
| Rp. | ۴۷۹ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۰٫۸۰ |
| £ | ۱۰۳٫۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# له ناپېژندل شويو پديدو څخه وېره

ژباړه: حمیدالله حمیدي

ځو ځله داسې پېښ شوي چې بيا بيا يوازې يوه رستورانت ته لاړ شی او د هماغو پخوانيو خوړو فرمايش ورکړی؟ موږ انسانان پر عاداتو پورې تړلي موجودات يو او زموږ ډېری له ناپېژندل شويو پديدو وېرېږو. حللاره دا ده چې بايد پرې نړدو چې دغه وېره موږ د نويو احتمالاتو له کشفه په شا کړي. يوازينۍ لار چې کولای شی خپل ژوند ته پرمختګ ورکړو، دا ده چې له خپلې امنې فضا ووځو او ناپېژندل شويو شيانو ته غېږه ورکړو.

**له درده وېره**

دا يوه طبيعي چاره ده چې هېڅ انسان درد نه خوښوي او دا کومه د حيرانتيا خبره هم نه ده، چې موږ هڅه کوو چې له درده لرې او په امن کې پاتې شو. که چېرې ستاسو افکار د درد په اړه دومره زيات وي چې ستاسو په ژوند کې د پرمختګ خنډ ګرځي، نو بيا ښه ده چې د خپل تمرکز لوري ته بدلون ورکړئ. د درد په اړه احساس درلودل، له درده ډېر سخت دي. له درده متصوره وېره کولای شي په ډېرو حالاتو کې له رښتيني درده زياته ازار ورکوونکې و اوسي.

**له نشتوالي وېره**

که چېرې تاسو د خپلو نږدې کسانو له نشتوالي، د دندې، کور يا کسب د له لاسه ورکولو وېرېږی، دغه ډول خيالي وېره له ژونده د هر ډول خوند اخيستلو مانع ګرځي. پخوا خلک اړ وو چې له مالي ستونزو او سختيو سره مبارزه وکړي. دا سمه ده چې په دې ډول شرايطو کې بايد د خپلو مالي ستونزو د حل په موخه لاس پکار شو، خو ډېره اندېښنه نه ده ورته پکار. ناپليون هېل وايي، په ځان کې وېرې ته ځای ورکول، د مالي يا شغلي امنيت د له لاسه ورکولو لامل کېږي.

**له پرېکړې وېره**

موږ ټول غواړو چې نور زموږ ستاينه وکړي او مينه راسره ولري. غواړو چې هرو مرو د يوې ډلې يا ټولنې غړي و اوسو. همدا لامل دی چې د نورو له پرېکړې وېرېږو. موږ نه غواړو چې نور خلک زموږ په اړه د لېوني يا تېروتونکي کس په توګه فکر وکړي، ځکه چې دغه تصور او فکر د دې لامل کېږي چې هغوی موږ له خپلو ډلو سره مناسب ونه بولي. ځينې وخت له پرېکړې نه وېره په دې مانا ده چې زموږ لويې او غوره نظريې د وېرې تر انبار لاندې نا سپړلې پاتې کېږي. له دې وېرې څخه د خلاصون لپاره بايد پوه شو چې د نورو نظريات د هغوی خپل عقايد او باورونه وبولو او ډېر ارزښت ورنه کړو. که چېرې مو دغه ساده کار زده کړ، نور به د دې احساس ونه کړو چې ګواکې د نورو تر پرېکړې لاندې راغلي يو.

**له بريا وېره**

دغه وېره يو څه حيرانوونکې ښکاري. کېدای شي وپوښتئ: «ولې بايد له بريا ووېرېږو؟» بايد ووايم چې دغه وېره له نورو وېرو مشهوره ده. ځينې کسان کله چې په دې پوه شي چې د بريا راتلونکی ګام د هغوی له تمې او تصوره لوړ دی، له خپلو پروژو لاس په سر کېږي او يا په ناپوهۍ کې هغه اړيکې چې له بريا سره وصل دي، له منځه وړي. دغه وېره د ناپېژندل شويو له وېرې سره مستقيمه اړيکه لري او همدارنګه پر ځان باندې له شک او ترديد سره هم پيوند لري. که چېرې فکر کوو چې د بريالي کېدو وړتيا نه لرو، خپل ځان مو په لوی لاس له برياليتوبه محروم کړی دی. باور ولرئ چې موږ د غوره او عالي لاسته راوړنو وړتيا لرو.

**له ماتې وېره**

بريالي انسانان تاسو ته وايي، چې له بل هر چا يې ډېرې ماتې خوړلې دي. دا هر څه له ماتې څخه ستاسو پر اخذ او فهم پورې تړلي دي. کله مو چې هره ماتې د يو نوي فرصت د زده کړې او د پرمختګ پر لور د يو نوي ګام اخيستو په توګه ومنله، له ماتې وېره خپل ځواک او توان له لاسه ورکوي. موږ ټولو پر لاره تلل همدا ډول نه دي زده کړي؟ موږ له همدې امله په دې نړۍ کې يو، چې زده کړو که چېرې له تجربو زده کړه وکړو، تېروتنې مو هغومره هم سختې او نا هيلې کوونکې نه پرېوځي.

تېروتنه او بريا د برياليتوب د لارې يوه برخه ده. وېره د تصور او تجسم له ځواکه ناوړه ګټه اخيستل دي.

وېره ورانوونکی عامل دی چې په هر ځای کې د پرمختګ د له منځه وړو لامل کېږي، خو پرېکړه د پرمختګ لامل کېږي. کله چې د خپل ذهن او روان پليتې وېرې کنټرول کړی او له منځه يې يوسی، ذهني ارامتيا به تر لاسه کړی او په چټکۍ سره به د خپلو هيلو د حقيقت پر لور ګام واخلی. مشهور ليکوال او فيلسوف «شارون» وايي: «که احساس کوی چې تر فشار لاندې ياست او يا په کوم ځای کې بند پاتې ياست، پوه شی چې ژوند مو پر تاسو واکمني او برلاسي لري. اجازه مه ورکوئ چې وېره ستاسو د فلج کېدو لامل وګرځي. د خپلو وېرو زړه ته ننوځئ او د يوې زريني موقع په توګه ګټه ترې واخلئ. يوازې مه پاتې کېږئ، له بندو قفسونو را ووځئ، له کوره بهر شئ او د ځان لپاره يو لاروی او همغږی پيدا کړئ. که چېرې مو د نورو شخصي ژوند ته ارزښت ورکړ، باور ولرئ چې دغه ارزښت به په خپل ژوند کې هم وګوری.»

پر وېرې د غلبې او برلاسي لپاره لومړنی ګام، د تر ټولو اغېزناکې وېرې په اړه پوهاوی لرل دي. تر هغو پورې چې يو شی ونه پېژنی، نشی کولای بدلون ورکړی. ځان ته يو څه وخت ورکړئ او خپل ژوند و ارزوئ. د پرېکړو، چلندونو او د خپل ژوند د راتلونکې په اړه فکر وکړئ.

**په وېره څه ډول برلاسي کېدای شو؟**

کولای شی زرګونه ارزښتمن کارونه وکړی او په ژوند کې خپلو غوښتنو ته ورسېږی. هېل دغه فرضيه ثابته کړې ده. اجازه مه ورکوئ چې وېرې مو د پرمختګ او لوړتيا خنډ وګرځي.

مه پرېږدئ چې د نورو عقيدې او باورونه ستاسو ذهن له وېرو او شکونو ډک کړي. مه هېروئ هغه څه چې ستاسو په ذهن کې جريان لري، ستاسو د ژوند حقيقت جوړوي. افکار مو د باور او مېړانې پر اساس ولاړ وساتئ چې ذهن مو همدغه څه په حقيقت کې ښکاره کړي. دا زده کړئ چې پر خپل ذهن واکمن شی، نه دا چې ذهن مو پر تاسو واکمن وي.


**خپلو افکارو ته مو لوری او مسير ورکړئ**

په ياد ولرئ چې وېره يو ذهني حالت دی. هر هغه څه چې ټينګار پرې کوی، په اصل کې هماغه شی د ځان پر لور راکاږی. نو په پوره ځيرکتيا سره خپل افکار پر ټاکلو او د خوښې وړ موخو متمرکز کړئ او يو ښکلی او مينه ناک ژوند رامنځ ته کړئ.

# سناتوران: حکومت دې په مرموزه توګه د خبریالانو د وژنې په تړاو جدي پلټنې وکړي

له تېرو نږدې دوو مياشتو راهيسې په مرموزه توګه د يوشمېر خبريالانو د وژنې پېښو اندېښنې زياتې کړې دي.

مشرانو جرګې په خپله پرونۍ عمومي ناسته کې له امنيتي بنسټونو وغوښتل چې د خبريالانو وژونکي پيدا او سزا ورکړي. د مشرانو جرګې د رسنيز دفتر په يوه خبرپاڼه کې له حکومته په ټينګار غوښتنه شوې چې د دغو وژنو او پېښو مبهم او ګونګ اړخونه وڅېړي او پايلې دې له ولس سره شريکې شي.



د جرګې دويم نايب محمد اکبر ستانکزي په دې اړه رسنيو ته ويلي: «د مشرانو جرګې پرونۍ غونډه د خبرياﻻنو د وژنو په اړه وه، په ځانګړې توګه دې وروستيو کې په بېلابېلو ولايتونو کې خبرياﻻن شهيدانېږي، موږ له حکومت او طالبانو غواړو چې بې ګناه او ملکي کسان ونه وژني، په حکومت دې فشار راوستل شي چې دې برخه کې اقدام وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې ورمه ورځ هم له رسنيو د ملاتړ بنسټونو په يوه ناسته کې حکومت د خبرياﻻنو د امنيت په خونديتوب کې ناکام بللی و او له رسنيو يې غوښتي وو چې د درې ورځو لپاره حکومتي خبرونه خپاره نه کړي.

د خبرياﻻنو د خونديتوب کمېټې رييس صديق الله توحيدي د مشرانو جرګې له اعلاميې د هرکلي ترڅنګ وايي، حکومت او نړيواله ټولنه بايد د خبرياﻻنو د وژنو د مخنيوي لپاره جدي اقدام وکړي.

هغه زياتوي: «هيله لرم حکومت، نړيواله ټولنه او مرستندويه هېوادونه په يو لوی مشارکت کې وکولای شي، د دې وينو تويېدو مخه ونيسي، تمه لرم چې په يو تفاهم سره اوسنی وضعيت بشپړ بدلون وکړي او خبرياﻻن په يوه ارامه فضا کې اطلاع رسونه وکړي.»

په ورته وخت کې د کورنيو چارو وزارت وايي چې د خبرياﻻنو او مدني فعاﻻنو د امنيت د خونديتوب لپاره په يو ميکانېزم کار کوي.

د دغه وزارت وياند طارق ارين زياتوي: «له خبرياﻻنو او د رسنيو له بنسټونو سره په نږدې اړيکه کې يو، هغه خبرياﻻن چې مستقيم تر ګواښ لاندې دي، ورته ويل شوي، د امنيت د خونديتوب لپاره يې ټولې هڅې کېږي، ځينې ګواښونه تر صفر درجې راښکته شوي، په لوړه کچه د تروريستي حملو د مخنيوي لپاره هڅې کوو».

د يادونې ده چې په وروستيو دوو مياشتو کې په افغانستان کې پنځه خبرياﻻن او د رسنيو کارکوونکي وژل شوي، د دغو هدفي وژنو عاملين تر اوسه مشخص شوي نه دي.

# لويه څارنوالي: پر رشوت تورن دری سناتوران په ضمانت خوشي شول

لويه څارنوالي وايي چې د رشوت اخيستلو په تور درې تنه نيول شوي سناتوران يې په ضمانت خوشې کړي دي. د لويې څارنوالۍ وياند جمشيد رسولي ويلي چې لويې څارنوالۍ د يادو سناتورانو د بند موضوع د تصويب لپاره له مشرانو جرګې سره شريکه کړې، خو په وينا يې، مشرانو جرګې ياده موضوع نه ده تصويب کړې، بلکې په ضمانت يې د يادو کسانو خوشې کولو غوښتنه کړې ده.

رسولي له رسنيو سره په دې اړه شريک شوو معلوماتو کې ويلي: «د افغانستان لويې څارنوالۍ ياد سناتوران د قانون په رڼا کې د ضمانت په بدل کې خوشي کړل، دوسيه تر څېړنو لاندې ده.»

دا په داسې حال کې چې د ملي امنيت او لويې څارنوالۍ تېره اونۍ په بلخ ولايت کې د رشوت اخيستلو په تور د مشرانو جرګې د دريو سناتورانو د نيول کېدو خبر ورکړی و.

د چارواکو په وينا، ياد سناتوران پر چارو د نظارت او څېړنو لپاره بلخ ولايت ته تللي وو، چې په حيرتان بندر کې د ۴۰ زره امريکايي ډالرو رشوت اخيستلو په تور لاس په لاس نيول شوي دي، خو مشرانو جرګې تېره اونۍ وويل چې په دې اړه له دوی سره لازم جزيات نه دي شريک شوي.

مشرانو جرګې همدارنګه ټمه ښودلې چې ياده قضيه د افغانستان د اساسي قانون په رڼا کې په عادلانه توګه وڅېړل شي.

يادې جرګې ويلي چې يو پلاوی يې ټاکلی، ترڅو د جرګې له نيول شويو غړو، لويې څارنوالۍ او ملي امنيت عمومي رياست سره په اړيکه کې شي او په دې اړه لازم معلومات تر لاسه کړي.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحيدي
**مرستيال:** شفيق اميرزی
**ايډيټران:** جواد تيموري او امان الله حنيفي
**خبرياﻻن:** حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د جنوري څلورمه |۶۵۷مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۵ | ۱۱ | ۱٤ | ۱٦ | ۷ |
| -۲ | -۷ | ۲ | ٤ | ٦ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۱ | لمر ختل ۰۷:۰۰ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۱۸ | ماښام ۰٤:۵۶ | ماخوستن ۰۶:۲۶

## نړۍ



کرونا او د مړینې زیاتوالی؛

**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ۸۴۵ زره او ۲۵۹ کسانو ته ورسېد**

۳

## راپورونه: په بلوچستان کې د وسله والو له خوا ۱۱ کان کیندونکي وژل شوي

د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، په بلوچستان ایالت کې د ناپېژاندو وسله والو له خوا ۱۱ تنه کان کیندونکي تر تښتول کېدو وروسته وژل شوي دي.

پاکستانیو رسنیو خبر ورکړی، چې دا پېښه د بلوچستان ایالت د بولان ولسوالۍ په مچ سیمه کې رامنځته شوې ده. سرچینو ویلي، چې ناپېژاندو وسله والو کسانو په یاده سیمه کې د ډبرو سکرو د یوه کان ۱۱ تنه کان کیندونکي تښتولي وو او بیا یې په یوه غرنۍ سیمه کې وژلي دي.

امنیتي مسوولینو رسنیو ته ویلي چې تر پېښې وروسته پولیس سیمې ته ورسېدل، خو بریدګر له سیمې څخه تښتېدلي وو. د بولان مرستیال ولسوال مراد کاسي ویلي چې په دې پېښه کې څلورکسان ټپیان شوي هم دي چې اوس په روغتون کې تر درملنې لاندې دي.

مچ د بلوچستان له مرکز کویټې ښار څخه ۶۰ کیلومتره لرې سوېل ختیځ لور ته پروت ښارګوټی دی، هلته د ډبرو سکرو کانونه دي چې ډېری پکې د نورو ځایونو خلک کار کوي. د دغه برید مسوولیت تر اوسه کومې ډلې نه دی منلی. د یادونې ده چې له تېرو څومیاشتو راهیسې په بلوچستان کې یوځل بیا د نا امنیو پېښې زیاتې شوې دي. څو ورځې مخکې هلته د وسله والو کسانو په برید کې د پاکستان د پوځ اووه سرتېري هم وژل شوي وو.

## راپورونه: په نایجیر کې په وسله والو بریدونو کې له ۷۰ ډېر ملکیان وژل شوي



د راپورونو له مخې، په افریقایي هېواد نایجر کې په یوه وسله برید کې لږترلږه ۷۰ ملکي وګړي وژل شوي دي. د یاد هېواد پولیس وایي، چې بریدګرو د مالي هېواد پولې ته نږدې پر دوو کلیو یرغل وکړ او یاده مرګ ژوبله یې واړوله. بلخوا رویټرز خبري اژانس هم د نایجر د چارواکو له خولې ویلي چې په دغو بریدونو کې ۷۰ تنه وژل شوي دي. سره له دې چې تر اوسه د دغو بریدونو مسوولیت چا پر غاړه نه‌دی اخیستی، خو ویل کېږي چې له القاعده او اسلامي دولت سره تړلي جنګیالي په دې سیمه کې فعال دي او ښایي دا برید به هم دوی کړی وي. دغه راز د لوېدیځې افریقا په دغه هېواد کې امنیتي سرچینو رویټرز خبري اژانس ته ویلي، چې په دغو بریدونو کې ګڼ کسان ټپیان شوي هم دي چې ښایي د وژل شویو شمېر تر دې هم زیات شي.

په ورته مهال، ملګرو ملتونو، یوشمېر هېوادونو او د بشري حقونو مدافع بنسټونو دغه بریدونه غندلي او د نایجیر له حکومته یې غوښتي چې د ملکي وګړو د خوندیتوب لپاره دې جدي اقدامات وکړي.

د یادونې ده چې تېر میلادي کال هم د تندلارو وسله والو ډلو په ورته بریدونو کې سلګونه کسان وژل شوي دي.

وزارت صحت عامه:

## شمار مجموعی جان باختگان ویروس کرونا در کشور، به ۲۲۳۰ نفر رسیده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ۲۰۳ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که این تعداد واقعه، در ۱٦ ولایت کشور به ثبت رسیده است.

وزارت صحت عامه می‌گوید که در یک شبانه روز گذشته، تست کرونای ۱۵۰۲ تن انجام شده، که نتیجهٔ آزمایش ۲۰۳ تن شان مثبت می‌باشد.

منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ۵۲۹۰۹ تن افزایش یافته است.


در خبرنامهٔ این وزارت آمده است که ۷۲ تن در ولایت هرات، ۲۷ در بادغیس، ۲۵ در تخار، ۱۹ در کابل، ۱٦ در ننگرهار، ۱٦ در غور، ٦ در پکتیکا، ۵ در پکتیا، ۵ در خوست، ۴ در کندز، ۲ در بدخشان، ۲ در هلمند و ۱-۱ دیگر در بامیان، وردک، لغمان و کنر به ویروس کرونا مصاب شده اند.

براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۱۱۴ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتهای این بیماری، به ۴۲۴۰۵ تن می‌رسد.

همچنان وزارت صحت گفته است که در ٢٤ ساعت گذشته، ۸ تن به اثر ابتلا به (کوید- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۲۲۳۰ نفر رسیده است.


## ژوند

## هواوې د نووا ۸ لړۍ نوي موبایلونه معرفي کړي




هواوې کمپنۍ د نووا ۸ لړۍ دوه نوي ځیرک موبایلونه معرفي کړل. دغه ځیرک موبایلونه نووا ۸ او نووا ۸ پرو نومول شوي چې په ترتیب سره ٦,٥٧ او ٦,٧٢ انچه اولېډ ډوله مخپاڼه لري. د نووا ۸ مخپاڼه له ۹۰ هرتز او د نووا ۸ پرو مخپاڼه له ۱۲۰ هرتز ریفرېش رېټ څخه د ملاتړ وړتیا لري او دواړو کې د ګوتې نښې سېنسر د مخپاڼې لاندې ورکړل شوی دی. دواړو ځیرکو موبایلونو کې کېرین۹۸۵ ډوله پروسېسر چې له ۵جي څخه د ملاتړ وړتیا لري، کارول شوی او دواړه ۸ ګیګابایټ رم او ۱۲۸ – ۲۵٦ ګیګابایټ د فایل ثبتوني وړتیا لري. دواړه ځیرک موبایلونه شاتنۍ برخه کې ۴ کامرې لري چې ٦٤ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله ډېپټ سېنسر پکې شامل دي. نووا ۸ مخکینۍ برخه کې یوه ۳۲ مېګاپکسله وړتیا لرونکې کامره، خو ۸ پرو بیا دوې کامرې لري چې ۳۲ مېګاپکسله اصلي او ۱٦ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل کامرې پکې شاملې دي.

## ویټامین ډي په ښځو کې د سینې سرطان مخه نیسي




له اوږدې مودې راهیسې په بدن کې د ویټامین ډي کمښت د سینې سرطان له سترو لاملونو ګڼل کېږي او په دې اړه له ۲۵۰۰ څخه ډېرې څېړنې هم شوې دي. مختلف فکتورونه د سینې ناوړه تومور لامل ګرځي، خو وراثت یې تر ټولو ستر لامل دی. ایا یوازې له ویټامین ډي سره د سینې سرطان مخنیوی ممکن دی؟ دا ثابته شوې چې ویټامین ډي د سینې سرطان په برخه کې ډېر اغېزمن دي. له دې سربېره، ځینې نور ورځني لاملونه لکه خواړه، ورزش، د فشار مدیریت او خوب هم په دغه برخه کې مهم رول لوبوي؛ خو له هرې نوې څېړنې سره د سینې سرطان لپاره د ویټامین ډي ارزښت نور هم زیاتېږي. څېړونکي په دې باور دي چې د سینې عادي سرطان ٪۹۰ د ویټامین ډي د کمښت له امله دی، چې ٪۱۰۰ د مخنیوي وړ دی. د څېړونکو یوې ډلې وموندله هغه مېرمنې چې وینه یې ۲۵ هایدروکسي ویټامین ډي لري، په هغوی کې د سینې د سرطان له امله د مړینې کچه د نورو په پرتله ٪۵۰ ټیټه ده.



عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتي او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له ایستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515